عمومی منشی

د ښځو د نړیوالی ورځي په مناسب پیغام

۸ مارچ ۲۰۱۲

په ټوله نړۍ کې د جندر مساوات او د ښځو ځواکمنی کول پراخ کیږی. تر بل هر وخت زیاتی ښځی د حکومتونو او هیوادونو مشران دي، او د ښځو تر ټولو زیات تناسب په حکومتونو کې د وزیرانو په ډول خدمت کوي. ښځي تر بل هر وخت په سوداګری کې نفوذ کړي. زیاتی نجونی ښوونځی ته ځي، په سالم ډول وده کوی او د خپلو بالقوه ځواک د درک کولو په خاطر ښی مجهزی شویدی.

پر دغه خوځښت برسیره، لا هم اوږده لار پر مخ پرته ده چې وکولای شو ووایو ښځې د خپلو بیسټیزو حقونو، آزادی او وقار چې د دوی ذاتی حقونه دي او د دوي د هوساینی ضمانت کوي، څخه برخمن دي. اوس دلته دغی شی د نړۍ د کلیوالی سیمو په پرتله واضح او روښانه ده. کلیوالی ښځې او نجونی، چې د سږ کال د ښځو نړیواله ورځ دوي ته وقف شوي،د نړۍ د وګړو یو پر څلورمه برخه جوړوي، تر دم ګړیه په عادی ډول د اقتصاد، سیاسی او ټولنیزو شاخصونو له مخی، د عاید د پیدا کولو څخه نیولی بیا تر پوهنی، روغتیا او په تصمیم نیولو کې آخره برخه جوړوي.

کلیوالی ښځې چې کابو ۵۰۰ ملیونه لږ ځمکی لرونکی کروندګر او بی ځمکه کارګران جوړوي، د کرنی په ډګر کې عمده او ستر کاری ځواک دی. دوي په کلیوالی سیمو کې په زیاته پیمانه مفت کار تر سره کوي. کلیوالی ښځې لا تر اوسه مهم د خپل بالقوه ځواک څخه کار نشی اخیستلای. که چیرې کلیوالی ښځې تولیدی سرچینو ته لاسرسی ولرې نو د کرنی په محصولاتو کې به ۴ سلنه زیاتوالی راشی چې تغذیه او خوراکی مصونیت پیاوړی او لږ تر لږه ۱۵۰ ملیونه وګړی له لوږی څخه ساتی. که چیرې کلیوالی ښځو ته امکانات مهیا شي نو دوي به په ټوله نړۍ کې د کابو ۲۰۰ ملیونو ماشومانو د ناسمی ودی د پټ پرمخ تلونکی تراژیدي په پایته رسولو کې مرسته وکړي.

تبعیض آمیزه قوانین او کړنی نه یوازی پر ښځو باندی بلکی پر ټوله ټولنه او ملت باندی ناوړه اغیزه کوي. په هغه هیوادونو کې چیرته چې ښځی د ځمکی د درلودلو د حق او یا پورونو ته د لاسرسی د حق څخه بی برخی دي، په زیاته پیمانه سؤ تغذی ماشومان لري. دا هیڅ معقوله نه ده چې ښځینه کروندګر د کرنی د پراخو خدمتونو څخه یوازی ۵ سلنه تر لاسه کوي. د یو ملت په پراختیا کې پر کلیوالی ښځو باندی پانګونه تر ټولو معقوله پانګونه ده.

د کلیوالی ښځو او نجونو وضعیت د بشپړه ټولنی د ښځو او نجونو هنداره ده، په کور کې د پاتی کیدو لپاره د اصرار څخه نیولی بیا تر پراخی کورنی، کار ځای او په جګړه کې تر تاوتریخوالی او د زامنو د زده کړې تر لومړیتوبه پوري، هر کال په سلګونه زره ښځی د زیږون پر مهال د زیږون د لومړنی مراقبتونو د نشتوالی له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. حتی په هغو هیوادونو کې چې ښی کارنامی هم لري، له تر اوسه هم د هغو ښځو او نارینه وو په تنخوا کې تبعیض برقرار دی چې ورته کار ترسره کوي، او همدارنګه په سیاسی، اقتصادی او فیصله کولو په ډګرونو کې د پر له پسی ډول د لږ استازیتوب سره مخامخ دي.

د ښځو د نړیوالی په دغه ورځ کې زه حکومتونه، مدنی ټولنی او خصوصی سکتور هڅوم چې د جندر مساوات او د ښځو ځواکمنتیا، د بشری اساسی حقونو او د ټولو د ګټو لپاره د یو ځواک په ډول، الزامی کړي. د ښځو او نجونو قوت، ذکاوت او پیاوړتیا د انسان تر ټولو ارزښتناکه او سرپټي طبیعی زیرمی ښکارندوی دی.